# د پښتو ږغپوهنه یا فقه الصوت

په ژبنۍ پوهنو کښي یو مهم علم ږغپوهنه یا فقه الصوت دئ، چي په نوي علمي ژبه ئې فونولوژی Phonology بولي. دا علم د اوسنۍ دنیا په ادبي او ژبني علومو کښي ډېر اثر لري، او یو مهم قسمت ئې مقایسوي فونولوژی ده. چي په دې برخه کښي د دنیا د ژبو پر اصواتو او ږغو AH بحث او څېړني کیږي، او د ژبو په تاریخ کښي ډېر فواید پر مرتب دي.

مثلاً که وغواړو چي د ژبو تاریخي پلو وپلټو، او ریښي ئې معلومي کړو نو په مقایسوي نظر د هغو اصواتو ته گورو، او د ژبو تاریخي خپلوي او نژدېوالی له دغه څخه معلوموو.

زه غواړم چي په دې مقالو کښي د پښتو ژبي ږغونه او توري د دې علم له نقطه نظره وگورم. او شاوخواته ئې مطالعه وکړم، او هم له زړو آریائی ژبو سره د پښتو اصوات او تهجي توري مقایسه او مقابله کړم.

د پوهانو د نوو تحقیقاتو او پلټنو نتیجه دا ده چي پښتو یوه آریائی ژبه ده او هم له دې جهته د ږغو او فونیک لامله له آریائي ژبو سره ډېره ورته ده او نژدېوالی او خپلوي ئې د باختر له زړو ژبو سره ډېره ده.

دا مقصد د ژبو له مقایسوي فونولوژی Comparative Ponology څخه ښه ثابتیږي، ځکه چي دا فن د ژبو په اصواتو او



ږغو کښي مفصلاً مطالعه کوي او ټول اصوات یو له بله سره پرتله کوي وروسته نو د ژبو پر اصلیت او تاریخي خپلوۍ په مستندو دلایلو حکم کوي.

پښتو ژبه د ږغو او اصواتو له مخي ډېره له قدیمو آریائی ژبو سره ورته ده، د سنسکریت او اوستا اکثر ږغونه په دې ژبه کښي اوس هم موجود دي چي په لاندي کرښو کښي تفصیل راوړم:

**ږغونه**:

د ږبي اساس هغه ږغونه او اصوات دي چي له خولې څخه راوزي، دا اصوات چي سره یو ځای سي یوه کلمه ځیني تشکیل کیږي د اصواتو او ږغو د ښکاره کولو لپاره ځیني اشکال وضع سوي دي، چي هغه موږ (توري یا حروف) بولو.

هره ژبه ځانته ځیني مخصوص اصوات لري او ځینو اصوات بیا د اکثرو ژبو تر منځ مشترک وي، د ژبو د مخصوصو اصواتو د مقایسې له خوا موږ کولای سو چي د دوی نژدېوالی یو له بله ومنو.

په ټولو ژبو کښي ځیني توري صایت (ږغیز) وي چي د دوی په واسطه د نورو صامتو توریو تلفظ کیږي، او دغه لومړي ډول توریو ته چي د تلفظ واسطه دي حروف علت Vowel (ږغیز) وایي، دوهم ډول توري چي صامت او صحیح دي حروف صحیحه (ستیز) Consonant بولي.

**صایت توري او حرکات**:

د پښتو الفبا ږغیز توري Vowelsystem یعنی هغه حروف چي د صحیحو توریو د تلفظ لپاره کار کوي اساساً درې دي (ا ـ و ـ ی) دا توري په لوی سر کښي هر یو دوه ډوله ږغ لري، لنډ ږغ او اوږد ږغ.

د لنډ ږغ صوت ئې دا دئ: چي د حرکت کار وکړي په (کر) کښي چي (ک) مفتوح دئ په حقیقت کښي د (ک) او (ر) د ږغ ښکاره کولو لپاره د الف یو نماینده (یعنی زور) راغلی دئ، او په تلفظ کښي

کومک ورسره کړئ دئ، دغسي هم (و) د پېښ کار ورکوي که سپک او لنډ اداء سي مثلاً (پړ) او (پل) چي د پېښ د اظهار لپاره بايد (پوړ) او (پول) وليکل سي، دغسي هم (ی) په لنډ ږغ سره د (زېر) کار ورکوي، لکه (خر) او (پس) چي د زېر د اظهار لپاره بايد (ی) هم ورسره وليکله سي (خير، ـ پيس)

نو په پښتو کښي دا توري هغه وخت صايت توري بولو چي دمخه توري ئې متحرک او دی پخپله وچ (ساکن) وي اما که دغه دري توري په اوږده ږغ يعنی په درانه ډول اداء سي نو ولاړ الف، او مجهول (و ـ ي) ځيني جوړېږي لکه : کار، نور، پېر.

اما يو بل صوت هم دغه حروف لري لکه د پارسي (بود ـ نمود) يا (تير ـ شير) چي دغه راز اصوات پښتو نه لري نو صايت توري ټول دا شکل مومي :

الف : د حرکت حالت يا لنډ ږغ ، زور لکه : بر، لر اوږد ږغ، ولاړ الف لکه : بار، کار.

و : لنډ ږغ، پېښ، لکه سر (سور) لر (لور) اوږد ږغ مجهول واو لکه لور، سور.

ی : لنډ زېر لکه : تر (تير) منه (مينه) او اوږد ږغ ، مجهوله يا لکه : تېر، مېنه.

**زورکی يا مخصوص حرکت** :

لکه لوړ چي وويل سوه، د پښتو حروف علت دري دي او هر يو دوه حالت لري، چي ټول شپږ سي د درو حرکاتو تر منځ يو بل حرکت هم سته، چي موږ ئې زورکی بولو دا حرکت اصلاً د زور او زېر او پېښ تر منځ يو مخصوص صوت دئ چي د درو حروفو علتو صوت پر درو نورو اقسامو وېشي په دې شکل :

(۱) د زور سره لکه تر (تا) پړ (ملامت) بر (اسم صوت) چي دلته د الف او زور په نمايندگي د حرکت کار ورکوي، او که د



کلمې په پای کښي راسي، نو ئې د اظهار لپاره (هـ) ليکله کيږي، له دغه جهته نو (هـ) هم که حرکی کار ورکی، له صائيتو حروفو څخه شمېرله کيږي. مثلاً ښځه، پسه چي تر (هـ) دمخه زورکی دئ. او (هـ) ئې فقط په اعرابی کيف ليکله کيږي، دغسي (هـ) چي په پښتو کښي ډېره ده له حروف علت څخه ګڼله کيږي. او په درج او ترکيب کښي د حروف علت حکم پر جاري کيږي.

(۲) که دغه زورکی د (و) دمخه راسي، نو ئې صوت په مخصوص ډول ورګرزوي. چي د (او) ږغ پکښي وي لکه : کتو (دېګ ګلی)

(۳) که زورکی د (ی) دمخه راسي، نو ئې صوت داسي وي (ائ) لکه : کوئ (ميکنيد) تللئ (رفته) بخښلئ (بخشيده) او نور ...

**د صايتو حروفو ټول ږغونه** :

له لوړو پلټنو څخه مو د پښتو د صايتو حروفو ږغونه په دې ډول ضبط کولای سو، يعنی حرکات د مختلفو صايتو حروفو سره دغه ږغونه لري :

الف :

(۱) الف د حرکت په شکل چي زور دئ لکه : بل (افروخته) بر (بلند) چي د (ب) صوت ښکاره کوي.

(۲) تر زور وروسته چي ولاړ الف دئ لکه :کال، بار چي دمخه حرف ئې زور لري.

(۳) "تر الف" چي اوږد الف دئ لکه : آس، آره، چي دمخه حرف ئې هم زور لرونکی الف دئ.

(۴) د حرکت په شکل چي زروکی دئ لکه : بل (ديگر) چي د (ب) صوت په منځني ډول ښکاره کوي او په پښتو ليک کښې اکثراً (ه) نمايندگي کوي.

و :

(۵) لنډ معروف واو، د حرکت په شکل چي پېښ دئ لکه : کر (کور) بر (بور) چي د (ک، ب) صوت ښکاره کوي، او لنډ ږغ لري او کله د کلمې پای ته هم وي لکه پلو، نياو.

(٦) اوږد مجهول واو، چي له دوو پېښو څخه جوړيږي، لکه : کور (خانه) نور (ديگر) چي اوږد ږغ لري.

(۷) واو چي دمخه ئې زور وي لکه : څور (آزار) بور (ببر) چي د (او) ږغ لري

(۸) واو چي د مخه ئې زورکی وي لکه : کټو (ديگ گلی) چي د (او) ږغ لري.

ی :

(۹) لنډه معروفه يا د حرکت په شکل چي ( زېر) دئ ، لکه : تير، پير چي د (ت ـ پ) ږغ ښکاره کوي او کله ئې د ږغ د کلمو په پای کښې مطلق وي لکه پای ، خای.

(۱۰) اوږده مجهوله يا، چي له دوو زيرو څخه جوړيږي لکه : تېر، پېر، چي اوږد ږغ لري

(۱۱) يا ، چي دمخه ئې زور وي لکه ښی (راست) تی (پستان) چي د (ای) اوږد ږغ لري.

(۱۲) يا، چي دمخه ئې زورکی وي، لکه ښی، تئ (ميرفت) چي د (ائ) اوږد ږغ لري،

له لوړ تفصيله تاسو د صائيتو حروفو (۱۲) شکله زده کولای سئ دغه دوولس شکله پر اساسي درو ږغو بناء کيږي، څکه چي صائت حروف او د دغو ږغونه د ژبي د فونيک (ږغيوهني) اساس دئ، نو



سړی کولای سي چي د پرتلې او مقايسې لپاره کار څيني واخلي. د دغي لوړي خبري د څېړني لپاره لاندي پښتو حروف علت او ږغونه ئې له سنسکريت او اوستا سره پرتله کيږي چي د دغو ژبو سره نژدېوالی او د پښتو اصالت ښه څيني معلوميږي :

**مقايسه :**

مشهور انگليس مستشرق هـ، جوليس اگلنک د ايډنبرگ د مقايسوی فيلولوژۍ پروفيسور ليکي : "له هندي ايرانيو دورو څخه (چي آريائی اقوام سره گډ وه) د دوی د ژبو حروف علت (واول سيستم) په ارث پاته سوي او تغيير ئې نه دئ کړئ، اما فقط هندي ايراني لنډو دوو مرکبو صائيتو حروفو (ډفتونگ) په دې ډول تغير کړئ دئ (۱) له دوو صائيتو توريو څخه مرکب آريائي ږغونه چي (au-ai) وه او په اوستا کښې (AO-AE) لوستل کېده هغه وخت چي د هند گرامر پوهانو واخيسته، نو ئې په (O-E) تبديل کړه اما هغه اوږده ږغيز مرکبات چي آی (Ai) آو (Au) وه په لنډ ډول ئې (Au-Ai) وويل. (۲)"

له دې شرحي څخه ښکاره کيږي چي د آريائي ژبو واول سيستم قديم دئ او په پخوانو ژبو کښي څيني تغيرات هم ورپېښ سو دي نو له دغه جهت هم ښايي چي د پښتو واول سيستم کټ مټ د دغو قديمو ژبو سره برابر نه وي څکه چي پښتو د غرو او رغو ژبه وه او سنسکريت د ښو او سمو ژبه وه اوستا هم د خپل تربيت په محيط کښي له پښتو څخه بېله ده.

سره د دغه هم لکه جيکسون امريکائی مستشرق چي ليکي : د اوستا حروف علت تقريباً سره يو شی دي او اساساً پر اوږدو او لنډو ډولو باندي وېشل کيږي (۳) او لکه دمخه چي اشاره وسوه د پښتو د ږغيزو توريو اساس هم دغسي دي، او د پښتو (۱۲) ږغونه چي لوړ وليکل سوه په لاندي ډول له زړو ژبو سره سمبدلای سي :

الف :

(۱) زور په سنسکریت او اوستا او ټولو ژبو کښې سته، خو د هغو دوو ژبو زور د زبر او پېښ تر منځ یو صوت لري (۴) نو ځکه باید د پښتو زورکي ته نژدې وګڼل سي، اما اساساً زور او زورکی د پښتو له پلوه بېل ږغونه دي چي د کلماتو معاني هم اړوي لکه : تل (په زور، عمق) تل ( په زورکی، همېشه) بل ( په زور، افروخته) بل (په زورکی ، دیګر) او نور د الف وچ ږغ هم عام دئ.

(۲) د الف اوږد ږغ (آ) هم سنسکریت هم اوستا لري، او د دې لپاره چي له هغه بل الف څخه ئې تفریق وسي نو په دواړو ږغو کښې بېل شکل هم ځانته لري.

و :

(۱) واو معروف د حرکت په شکل (u) په دواړو ژبو کښې لکه پښتو سته، او ځانته بېل شکل هم لري.

(۲) د واو صوت په اوستا او سنسکریت کښې سته، چي په پښتو کښې دا ږغ نسبتاً اوږد او د مجهول واو په ډول دئ، چي نژدې دغه مجهول آواز ته ئې هم دغه ژبې لري. مګر په پښتو کښې هغه واو چي لکه د پارسي (بود _ نمود) غوندي وي، کم دئ، او داسي آواز په پښتو کښې نه لرو.

(۳) تر واو د مخه که زور وي ، دا ږغ په سنسکریت او اوستا دواړو کښې سته (Au) په پښتو کښې لکه : کندو، مندو.

(۴) تر واو دمخه چي زورکی راسي، دا صوت هم په تخمیني ډول (بنائي چي کټ مټ نه وي) په دغو ژبو کښې سته، ځکه چي د اوستا هغه (au) په سنسکریت کښې بل ږغ مومي چي پښتو ته نژدې دئ.



ی :

(۱) لکه واو _ ی هم دغسي ده، چي معروف ږغ ئې په اوستا او سنسکریت کښې سته، چي بېل اشکال هم لري، اما په پښتو کښې دا ږغ د زبر په ډول موجود دئ.

(۲) بل ږغ ئې اوږ دئ، چي موږ مجهوله یا ورته وایو، او په سنسکریت او اوستا کښې دا ږغ هم تقریباً پښتو ته نژدې دئ.

(۳) تر یا دمخه چي زور وي، دا حرف په دواړو ژبو کښې بېل ږغ او شکل لري، چي په پښتو کښې هم عام دئ.

(۴) تر یا دمخه چي زورکی راسي، دا صوت هم په تخمیني ډول په دواړو ژبو کښې سته، او پښتو ئې هم لري.

**توضیح :**

ځیني حروف علت چي په سنسکریت کښې سته لکه خفیف لام او را، غالباً دا هغه نوي اثرونه دي چي پر سنسکریت باندي د هند په ورشوګانو کښې سوي دي، که نه وي اساسي صایت حروف او د هغو مرکب اصوات (ډفتونګ) له پښتو سره برابر او مشترک دي

ځکه چي د سنسکریت د ږغیزو حروفو د اصواتو له اقسامو څخه که دغه سپک (ل _ ر) کم کړو، نو هغه (۱۲) صوته پاتېږي، چي په پښتو کښې اوس هم سته، فقط په (۱۲) اصواتو کښې ځیني لږ بلې خواته مایل سوي دي. او دغه (ل _ ر) ته پوره اعرابي حروف هم نه سو ویلای ځکه چي ذوحیاتین دي، او نیم اعرابي (Semivowel) ورته وایي. (۵)

تولي ژبې ځیني صحیح حروف هم لري، چي ږغونه ئې د صائیتو حروفو په کومک ښکاره کېږي، دغه صامت حروف د ژبو اساسي ږغونه دي، چي په اکثرو ژبو کښې سره مشترک دي، او ممکنه ده چي ځیني ژبې مخصوص صامت حروف هم ولري.

دلته تر هر څه دمخه بايد په دې پوه سو چي د ژبو په صوتي سيستم کښي د محيط او اقليم او اجتماعي ضرورياتو اثر دوني دئ چي په نژدو اقليمو کښي دغه ږغونه سره اوړي. لکه ژبه چي احتياج پيدا کړېده دغه ږغونه هم ضرورت منځته راباسي. مثلاً يو توری په يو خاص ځای کښي خلک يو راز وايي بل ځای هغه توری بل ډول ږغ لري دغه طبيعي احتياج دئ چي د ژبي او د ژبو ږغونه سره اړوي.

**مجرد ږغونه، او مرکب ږغونه** :

د صامتو توريو ږغونه موږ پر دوه ډوله وېشلای سو يو هغه ږغونه دي چي اساساً او پخپله يو ږغ او مجرد صوت وي له يوه مخرجه څخه په يوه وار راوزي دغو ته موږ مجرد ږغونه او يوازيني توري ويلای سو.

څيني داسي ږغونه هم په ژبو کښي سته، چي دوه ږغه سره ګډ سوي او يو رنګ ئې موندلئ وي، داسي ږغونه موږ مرکب ګڼو، او هغه توري چي نمايندګي ئې کوي (ګډ توري) ئې بولو.

د ژبو د تخليق او نشوونما په سلسله کښي مجرد اصوات لومړني دي وروسته چي په نويو خولو کښي لوېږي او نويو محيطو ته ځي، په څينو توريو نوي اصوات ګډېږي او مرکب صورت مومي، د پښتو ژبي الفباء ته چي سړی ځير سي له دېرشو توريو څخه مجرد اصوات دغه دي :

(ب ، پ ، ت، ټ ، ج ، چ ، ح ، خ ، څ ، ځ ، د ، ډ ، ر ، ړ ، ز ، ژ ، س ، ش ، غ ، ګ ، ک ، ل ، م ، ن ) اما څلور صائت توري (ا ـ و ـ هـ ـ ی) خو بېل دي د صحيحو او صامتو حروفو په ډله کښي نه شمېرل کيږي نور نو دغه توري مرکب صوتونه لري ( ږ ، ښ ، ڼ ).

( ڼ ) يو خيشومي ږغ دئ چي له (ړ) او (ن) څخه مرکب سويدئ:



ړ ←—— ڼ ←—— ن

او (ږ ، ښ) داسي توري دي چي مختلف اصوات لري او په ډول ډول اداء کيږي، په حقيقت کښي مبداء هغه اساسي مجرد توري (ژ،ش) دي چي د نورو توريو د ترکيب په سبب ئې ږغونه ګرزېدلي دي دا نقشه وګورئ :



په دې نقشه کښي د دوو تورو ګډ صوت په (=) سره د دوی تر منځ ښکاره سوئ دئ وګورئ د (ژ) مرکب ږغ داسي تغير مومي :

ژ ——→ (ژ= ر) ——→ ږ ——→ (ز= ګ) ——→ ګ

اما د (ش) ږغ هم داسي مرکب دئ :

ش ——→ (ش = ښ) ——→ ښ ——→ (ښ = خ) ——→ خ

اوس چي تاسوي ته د مرکبو او مجردو اصواتو تشريح وسوه نو به ولاړ سو د ږغو د مقايسوي بحث Comparative-phonology پر اساس به صايت او صامت توري هم د سنسکريت او اوستا سره وګورو.

**د سنسکريت او اوستا مرکب ږغونه** :

د سنسکريت تهجي حروف ټول (۴۶) دي چي له دغو څخه (۲۵) اصلي او صامت او نور صايت او د اعراب توري دي پنځه ويشت توري هم پر پنځو برخو وېشل کيږي :

۱. حلقي _ ستونيز Cutturals
۲. کامی _ تالوئيز Palatals
۳. زبانی _ ژبيز Cerebals
۴. دندانی _ غاښيز Dentals
۵. لبی _ شونډيز Labials

چي هر ډول له دغو توريو څخه پنځه ويشت توري لري. (٦)

اما په دغو تورو کښي اکثر مرکب توري دي . چي له مجرد ږغ سره يو (ه) سپک ږغ ملګرې کيږي، مثلاً : که ، ګه ، چه ، جه، ته، ته، د ه، په، به _ نو څکه موږ دا ويلای سو چي اصلاً آريائی ږغونه چي په اصلي آريائی ژبه کښي وه، هغه مجرد ږغونه دي چي د پښتو په اصلي حروفو کښي سته، دغه د ترکيب صورت ئې وروسته مونډلئ دئ. او دا اصوات په پښتو کښي هغه وخت وي. چي د حروفو حرکت زورکی وي. په دغه صورت کښي يو مرکب ږغ مومي. چي لکه نيمه (ه) داسي ويل کيږي نو ګويا هر حرف که په زورکي وواېو، د (ه) يو سپک صوت مومي، چي هغه موږ نه ليکو. دا هم بايد وواېو چي د مرکبو اصواتو طبيعت شرقي دئ نه غربي. يعنی له بخدي څخه غربي خواته تر اروپا پوري مرکب اصوات چي د (ه) په خلط جوړ سوي دي، لږ دي. بلکي سته هم نه . بالعکس د بخدي شرقي خواته په هند کښي دا ږغونه ډير دي، او سنسکريت او نوري هندي پراکريت ژبي ټول داسي مرکب ږغونه د (ه) په خلط لري. پښتو موږ پوره غربي يعنی له ايرانی خانګي څخه نه سو بللای. چي دغه ږغونه په نيم ډول پکښي سته او هم ئې شرقي يعنی هندی نسو ګڼلای، څکه چي لکه هندي ژبي مرکب ږغونه ئې پوره او بشپړ نه دي، نو له دغي پلټني څخه نتيجه اخلو چي دا ژبه آريائی مرکزي ژبه ده او اصوات ئې هم بنائي چي صوتي مرکزيت او اصالت ولري.



**د اصواتو تطبيق :**

دمخه د پښتو ژبي د الفباء مجرد او مرکب ږغونه وپېژندل سوه، اوس هغه ټول د سنسکريت او اوستا له اصواتو سره لاندي تطبيق کوم:

ب : په دواړو ژبو کښي دا مجرد صوت سته او ښل اشکال لري سنسکريت ئې مرکب صوت (به) هم لري چي په اوستا کښي نسته مثالونه:

اوستا : بغه Bagha (خدای)

سنسکريت : باټ Bat (لار) چي په پښتو کښي واټ سوی ده، مرکب ته نږدې پښتو ږغ (به) : لکه اوبه چي ماقبل آخر زورکی لري.

پ : په سنسکري او اوستا دواړو کښي مجرد او مرکب ږغ پهـ PH لري، چي د اوستا مرکب ږغ ئې (ف) او د سنسکريت مرکب ږغ ئې پښتو زورکی لرونکی (په) ته نږدې دئ، مثلاً :

اوستا : پ لکه : پره تو Peretu (پل) مجرد ږغ P
اوستا : ف لکه فره وه شي Fravashi (مقتدر) مرکب ږغ PH و F
سنسکريت : پ، لکه : پاتي Pati (کاغذ) مجرد ږغ P
سنسکريت : په لکه : پهاند Phand (بوريا، تور) مرکب ږغ PH

مرکب ته نږدې پښتو ږغ لکه : پړ (ملامت) په (در).

ت : په اوستا او سنسکريت کښي مجرد او مرکب ږغونه دواړه لري، لکه :

اوتسا : ت لکه تنو Tanu (تن) مجرد ږغ T
اوستا : ته لکه تهوخشه Thvaxa (يو نوم) مرکب ږغ Th
سنسکريت : ت لکه تاپ Tap (تود) مجرد ږغ T
سنسکريت : ته لکه تهالي Thali (تالي) مرکب ږغ Th

مرکب ته نږدې پښتو ږغ : لکه تل (همېشه) تلل (وزن کردن)

اوستا دا رغ نه لري اما سنسکريت ئې هم مجرد هم مرکب ته (Th) لري، مثالونه :

سنسکريت : ټ لکه ټسر Tasar (ټپسر) مفرد رغ T

(د اشتباه د رفع لپاره بايد تر T لاندي يو ټکی يا علامه وي چي زموږ په مطبع کښي نسته)

سنسکريت : ټه لکه ټهانو Thanu (تاڼه) مرکب رغ Th

مرکب ته نږدې پښتو رغ : کوټل (کوفتن) ټهل (تهمل).

ج : په اوستا کښي مجرد او په سنسکريت کښي هم مجرد هم مرکب رغ لري ، مثالونه :

سنسکريت : ج لکه جاترو Jatru (زاير) مجرد رغ J

سنسکريت : جه لکه جهاټ Jhat (سايوان) مرکب رغ Jh

اوستا : ج لکه جفره Jafra (ژور) مجرد رغ J

مرکب ته نږدې پښتو رغ : لکه جر (اسم صوت) جګ (بلند)

چ : په اوستا کښي مجرد او په سنسکريت کښي هم مجرد هم مرکب رغ لري، مثلاً :

اوستا : چ لکه چش Chash (چشيدن) مجرد رغ Ch

سنسکريت : چ لکه چاتر Chatur (لايق) مجرد رغ Ch

سنسکريت : چه لکه چهند Chhand (عروض) مرکب رغ Chh

مرکب ته نږدې پښتو رغ : لکه چغ (پرده نی) چخ (خليده).

خ : اوستا ئې مجرد رغ لري چي يو بل مرکب ډوله رغ هم پکښي سته (خو V) مثلاً : مجرد رغ ئې لکه : خرتو Khratu (خرد) او مرکب رغ ئې لکه : خوفنه Khvafna (خوب) دئ، پخپله سنسکريت دا صوت نه لري او په عوض کښې (ک ـ که) تلفظ کوي، يعنی ښه پسي حلقي کيږي. په پښتو کښي هم زورکی ورکو، د (خه) رغ ورکوي ، مثلاً : خر (اسم صوت) خړ (خاکي). دلته بايد دا هم وويل سي چي سنسکريت او اوستا له مقايسې څخه داسي معلوميږي چي



په مرکزي آريائي ژبو کښي دا رغ يو مستقر رغ نه دئ، ځکه نو په سنسکريت کښي په مستقل ډول نسته، او له پښتو څخه هم کله د (ک ـ که) خواته، او کله د (ښ ، ش) خواته ميل کوي، مثلاً د پښتو (خر) په سنسکريت کښي (کهر) او د پښتو پخول په هندی کښې (پکاول) سو، د خان کلمه هنديان (کان) وايي پخپله په پښتو کښي هم ځيني قبايل چي د (خ) تلفظ کوي هغه کلمات بيا نور قبايل په (ښ، ش) اړوي، مثلاً : (خه = ښه = شه) چي دمخه دي ابدال نقشه تاسي وليدله، نو ګويا (خ) د پښتو نيم مجرد توری دئ او پوره استقلال او استقرار نه لري.

څ : دا يو قسم صوت دئ چي د (ت، س) يا (ث، ت) ګډو اصواتو ته نږدې دئ، پخپله په سنسکريت او اوستا کښي نسته، مګر نوري آريائی ژبي ئې لري ، مثلاً : روسي (ڇ) لري، آلمانی (تست : Z) صوت هم دې ته نږدې دئ.

ځ : دا صوت د (ز، ج) تر منځ ويل کيږي په پاړسو کښې عوض (ج) دئ، مثلاً : جان = ځان هغه څوک چي دا صوت نه سي اداء کولای عوض ئې (ز) وايي له دې څخه معلوميږي چي د دغو دوو تورو له جنسه دئ. په سنسکريت کښي دا رغ نسته، بلکي د (ج) خوا ئې غالبه ده، مثلاً روج په سنسکريت کښي (روز) ته وائي، چي په پښتو ئې (روځ) بولي، (ارز) په پارسي قدر او قيمت ته وايي، چي (ز) په (ج) هم اوړي، ارج او ارجمند ځيني جوړيږي په سنسکريت کښي هم (ارج) په دغه معنا دئ، د پښتو (ارځ، ارځلېدل) هم کټ مټ دغسي دئ (ز = ج) په (ځ) اوښتئ دئ ، چي کله په (ز) هم (ارزېدل) ويل کيږي.

له دې څخه معلوميږي چي د (ځ) رغ اصلاً په مرکزي آريائيانو کښي وُ مګر په هند او ايران کښې په عوض نور رغونه درېدلي دي اوستا يو حرف لري چي رغ ئي (ځ) ته نږدې دئ هغه تقريباً (د =

dh) دئ. چې دا هر وخت د کلماتو منځته وي، مثلاً : پوخذه Pukhdha (پنځم) چې هغه (ذ) په پښتو (خ) بدل سوئ دئ.

د : په سنسکريت کښي غانبيز توری دئ چې په اوستا کښي هم سته، دا صوت عموماً په ټولو ژبو کښي مشترک دئ سنسکريت ئې مرکب صوت (ده) هم لري مثلاً :

اوستا : (د) لکه درفشه Draphsha (بيرق) مجرد رغ D

سنسکريت : (د) لکه : رته Datha (بيرق) مجرد رغ D سنسکريت (ده) لکه : دهرم Dharam (مذهب) مرکب رغ DH مرکب ته نږدې پښتو رغ لکه : در (بطرف مخاطب) دئ (هست).

ډ : دا حرف اوستا نه لري، په سنسکريت کښي سته، او مرکب صوت (ډه) هم لري، غربي خواته دغه توری نه ويل کيږي شرقي خواته ډېر دئ، او هم په اروپا کښي سته، مثلاً :

سنسکريت : (ډ) لکه : ډاين Dayan (ساحره) مجرد رغ D

سنسکريت (ډه) لکه ډهګ Dhig (نږدې) مرکب رغ DH.

**تبصره** : د اشتباه د رفع لپاره بايد تر لاتيني D لاندي يو ټکی يا علامه وي. پښتو مجرد رغ لکه : ډم (آب ايستاده) ډب (زمين عميق) پښتو مرکب ته نږدې رغ لکه : ډم (مطرب) ډب (اسم صوت).

ر : په اکثرو آريائی ژبو کښي سته اوستا او سنسکريت ئې هم لري، چې نيم صوتی Semivowel کيف هم لري، مثلاً :

اوستا : (ر) لکه : رتو Ratu (ديني مشر) مملو رغ ( R )

سنسکريت : (ر) لکه : راج Raj (حکومت) مجرد رغ ( R )

ړ : د دې توري طبيعت هم شرقي دئ، اوستا او پارسي ئې نه لري، پښتو او سنسکريت دا رغ لري او په مخرج کښي د (ر) او (ډ) تر منځ ويل کيږي، او په سنسکريت کښي د کلماتو په سر کښي ډې لږ وي، مګر په منځ او پاى کښي ډېر وي، مثلاً :

سنسکريت : (ړ) لکه : ړوړا Rora (ډېره) مفرد رغ R



پښتو لکه : ړوند، ړې، ړړ او نور ...

**تبصره** : د اشتباه د رفع لپاره بايد تر لاتيني ( R ) لاندي يوه علامه وي.

ز : سنسکريت دا رغ نه لري، په عوض کښي (ج) وايي، لکه : روز = روج يا زانو = جانو يا زن = جنی. په اوستا کښي هم سته، د دې توري طبيعت غربي ښکاري او په پښتو کښي متعدد ساري لري، مثلاً : کله په (ژ) کله په (ج) کله په (خ) اوړي.

اوستا : (ز) لکه : زاته Zata (زاده) مجرد رغ Z

ژ : دا رغ هم سنسکريت نه لري، او په پښتو کښي مستقلاً موجود دئ، اوستا ئې هم لري، مثلاً : ژنو Znu (زانو) دا حرف هم په پښتو کښي د (ز.ج) سره خپلوي لري، مثلاً : (ژبه "زبه" جبه) چې درې ډوله ويله کيږي خو طبيعت ئې غربي دئ د شرق خواته نږدې کيږي په (ج) اوړي. لکه د پارسي اژدر، د سنسکريت اجګر.

ږ : لکه دمخه چې تاسو ته ښکاره کړه سوه، دا توری مرکب صوت لري نو ځکه متغير دئ، له تيري نقشې څخه ئې تاسي ته د رغ تغير هم ښکاره سو : په سنسکريت او اوستا کښي د دې رغ ساري نسته، له (ژ، ج) سره اوړي مثلاً : کږ < کج < کوږ. يا اژدها > اږدهار، اما په خپله پښتانه ئې د (ګ) ساري ګڼي.

س : په سنسکريت کښي له مهموسو حروفو څخه دئ، په اوستا کښي هم سته، په اکثرو ژبو کښي دا رغ عام دئ. مثلاً :

سنسکريت : س لکه : سات Sat (اوه) مجرد رغ S

اوستا : س لکه : ستو Stu (ستايل) مجرد رغ (S) په پښتو کښي دا رغ (خ) ته نژدېوالی لري او کله کله سره اوړي هم لکه : سرګند < خرګند.

ش : دا هم مهموس حرف دئ، په سنسکريت او اوستا کښي سته، او لکه چې تاسي ته په دمخني ګڼه کښي ښکاره سوه دا صوت د ځينو تورو مرکبو رغو لپاره بنسټ دئ، مثالونه :

اوستا : (ش) لکه : هورشته Hvarahta يعنی ښه رشه (نیک کردار) مجرد رغ SH

سنسکريت : (ش) لکه : شاپت Shpit يعنی ملعون مجرد رغ SH

ښ : دمخه مو دا توری په مرکب رغ سره دروښود، د دې رغ نظاير په آريائی ژبو کښي سته، مثلاً : روسی کټ مټ (ښ) لري دغسي هم په اوستا کښي يو مشدد (ش) سته چي شکل ئې هم بېل دئ، مثلاً : شاته Shata يعنی ښاد چي په پارسي شاد سوئ دئ، دا رغ د پښتو (ښ) ته نژدې دئ او په پښتو ئې عوض هم دغه (ښ) دئ.

سنسکريت هم يو بل راز (ش) لري چي رغ ئې له اصلي (ش) څخه بېل دئ، او جلا شکل هم لري د ژبې سر چي په تالو پوري ونښلي، دا رغ اداء کيږي، چي د پښتو (ښ) اصلي مخرج هم دغه دئ چي وروسته په (ښ، خ) او ښ بدل سوئ دئ.

د سنسکريت دغه راز (ښ) مرکب صوت هم دئ، او د هند په ښارو کښي مختلف رغونه لري، مثلاً : کله د (ک) سره گډ سي، او د (کش ـ کهی ـ چه) رغ ورکوي، لکه : لکشمي = لکهیمی = لچهیمی (دولت) دا رغ په پارسو کښي په (ش) اوړي، مثلاً : د پښتو کښت ، د سنسکريت کښت د پارسي کشت چي په برج بهاشا ژبه کهمت سوئ دئ او له دغو ټولو مثالو څخه د دغه توري مرکب والی او عدم تقرر ثابتيږي.

غ : په حقيقت کښي دا توری او (گ) له يوې کورنۍ دي چي د سنسکريت او اوستا په حلقي توريو کښي ئې آوازونه سته، اوستا يو بل رغ (گه) هم لري چي پښتو رغ ته نژدې دئ، مثلاً : په سنسکريت کښي (گه) لکه گهات Ghat يعنی وژل چي مرکب صوت دئ، او د اوستا (گه) هم دغسي مرکب صوت دئ لکه گهژر Ghzar يعنی موج.



نو د (غ) رغ په پښتو کښي مجرد ؤ، مگر په شرقي هجرت کښي د هند و خواته دا رغ (گ) ته مايل سو، او يو راز صوت ځيني پيدا سو چي د (گ، غ) تر منځ دئ، لکه داغ چي په هندي کښي (داگهـ) او شغال چي شگال سو. د (غ) او (گ) ابدال په آريائی ژبو کښي عام دي او کله چي د خپل بل حلقي توري (خ) سره هم اوړي، مثلاً : غوا, غويی چي پخپله په پښتو کښي گورم, گور, گوروان له دغي مادې څخه جوړ سوي دي چي په پارسو کښي (گاو) او (غوشوی) هم دغه ريښه لي چي په پښتو (خوشوی) يا (خوشائی) دي.

ک : په اوستا او سنسکريت دواړو کښي سته، چي بل مرکب ډول (که) هم لري مگر د اوستا صوت ئې پښتو.ته نژدې دئ او د سنسکريت رغ ئې هم هغسي په حلق کښي اداء کيږي نو گويا دغه ک ـ که شرقي لوري ته تل د (خ) نمايندگي کوي ځکه چي شرقي آريائيان (خ) نه سي ويلای، مثلاً :

اوستا (ک) لکه : کامه Kama (کام) مجرد رغ K

سنسکريت : (ک) لکه: کاټ Kat (کاټ) مجرد رغ K

سنسکريت : (که) لکه : کهال Khal (ډنډ) مرکب رغ Kh

گ : په اوستا او سنسکريت دواړو کښي سته مگر د سنسکريت رغ ئې خورا حلقي دئ، چي د پښتو سره کټ مټ سم نه دئ، او د حلقي توريو طبيعت هم دغه دئ، چي په خپل شرقي هجرت کښي خورا پسي حلقي کيږي، مثلاً :

اوستا : گ لکه : گامه Gama (گام) مجرد رغ G

سنسکريت : گ لکه : گوند Gond (گوند) مجرد رغ G

په سنسکريت کښي که دا رغ مرکب سي (گه) نو (غ) ته نژدې کيږي، لکه چي دمخه مي وويل.

**تبصره** :د پښتو په ستونيزو حلقي تورو کښي ( خ، ک، گ، غ) له يوې کورنۍ څخه دي، دا کورنۍ توري تل يو د بل ځای سره

پربردي، په اوستا او سنسکريت او پښتو او پارسو او ټولو هندي آريائی ژبو کښي دا حکم عام او مطرد وينو، دمخه ئې مثالونه وويل سوه، او کله ځيني سامي يا منگولي حلقي توري هم په دغو تورو سره اوړي، مثلاً : فران، غران بولو، او باقر، باغر لولو، قندهار ، کندهار بولو.

ل : دا رغ په اوستا کښي نسته، او نه په زړه پارسو Old-Persian کښي وُ، مگر په پهلوي کښي پيدا سوئ دئ، چي په اوستا کښي عوض خپل قريب المخرج توری (ر) ده، او په سنسکريت کښي کله (ر) او کله (ل) وي.

په حقيقت کښي (ل ـ ر) په اکثرو آريائي ژبو کښي سره اوړي، د پښتو دېوال په پارسو (ديوار) دئ چي په پخوانی پارسو کښي (دېوال) کټ مټ په (ل) هم کښل سوئ دئ، په انگليسي کښي هم دغه ريښه وال Wall سته، عموماً د سنسکريت (ل) په اوستا کښي د (ر) رغ ورکوي، مثلاً :

سنسکريت : شريلاس Shrilas ښکلی ، هوکرپته Huklpta ښه جوړ سوئ.

اوستا : سريرو Sriro ښکلی، هوکرپته Hukerepta ښه جوړ سوئ.

م : دا توری په اوستا او سنسکريت کښي له خيشومي اصواتو څخه شمېرل کيږي او په دغو دواړو ژبو کښي عموماً سره يو دئ، په پښتو او نورو ژبو کښي هم عام دئ، خو کله د (ن) سره د مخرج قرب لامله اوړي، مثلاً لنبه ـ لمبه.

سنسکريت : (مه) لکه : نامه Nama (نوم) مجرد رغ M

اوستا : (مه) لکه : نمه Nama (نوم)

ن : په سنسکريت کښي مجرد رغ نسته، چي يو بل راز صوت د پښتو (ڼ) ته نژدې هم لري او په تېنسيکو کښي ويلی سي، په اوستا کښي هم دا دواړه رغونه تقريباً سته، مثلاً :



اوستا : ن لکه : نافيه Nafya دننه، ناف مجرد رغ N

اوستا : ان لکه : انتر Antare نو، منځ مرکب رغ N

سنسکريت : نه لکه : نابهی Nabhi نو، منځ مجرد رغ N

سنسکريت : نه لکه : ورڼ Varn پرموب ، مرکب رغ ته نژدې N

**تبصره** :

د (ڼ) د ښکاره کولو لپاره بايد لاتيني د (N) شکل يوه علامه ولري چي له (ن = N ) څخه بېل سي.

**په ساکن ابتداء** :

په سنسکريت کښي په ساکن توري ابتداء کېده. او لکه چي ځيني محققين وايي دا خاصيت د آريائي ژبو دئ. او هر څوني چي ژبي غربي خوا (يا سامي خواته) ميل کوي دا خاصيت ځيني ځي، پښتو او سنسکريت دا آريائی مزيت تر اوسه خوندي کړئ دئ.

په اروپايي ژبو کښي هم عمومي دئ. مگر په پارسي ژبه کښي ښايي چي له دې جهته نسته، چي پر دغي ژبي د سامي ژبو اثر خورا ډېر لوېدلئ دئ.

ښايي چي په خپله په اوستا او لومړنی پهلوي کښي په ساکن ابتداء وه مگر وروسته چي د سامي تمدن اثر پر ايران ولوېد نو په ساکن ابتداء محاله سوه، اکثر محققين وايي چي په پهلوي ژبه تقريباً زر آرامي او سامي لغات گډ سوي وه چي دوی به په سامي رسم الخط هغه سامی کلمات ليکل، مگر په پهلوي به ئې ويل ، مثلاً (ملکان ملک) به ئې ليکه، او شاهنشاه به ئې لوسته، داسي کلمات دوی (هزوارش) (۷) بلل او د سامی تمدن دغه اثر وُ چي ښايي له پهلوي او پارسي څخه ئې لار ورکه کړې وي، او په ساکن ابتداء ئې ځيني ايستلې وي. ډېر داسي کلمات په پارسي ژبه کښي سته، چي يو زايد الف د تلفظ د سهولت لپاره په سر کښي وراچول سوئ دئ

لکه اشګرف = شګرف یا اشکم = شکم یا اشتر = شتر یا اسمندر = سمندر ښايي چي اصلاً دا کلمات پخوا په ساکن سره شروع کېده، مګر وروسته چي سامي اغېزي ډېري سوې يو زايد الف د تلفظ د سهولت لپاره وراچول سوئ دئ. (۸)

نو د ساکن د ابتداء په خاصيت کښي پښتو ډېره سنسکريت ته ورته ده، او ښايي چي دا خاصيت دواړو ژبو له اصلي آريائی ژبي څخه موندلئ وي.

**خج (ايکسنټ)** Accint :

ايکسنټ يعنی د تلفظ او د ږغ تکيه او زور چي په پښتو ئې (خج) بولو، د فقه الصوت مهم بحث دئ، او په اکثرو آريائی ژبو کښي اوس هم سته، مګر په سنسکريت کښي خورا ډېر ؤ. له ويدا او د قديمو ګرامرپوهانو له بيانه ښکاري چي د سنسکريت ايکسنټ يو ډول موسيقيت درلود، او د تونيک Tonic په رنګ ؤ ، د ږغ فشار نه ؤ، او پخوا کښي دري ډوله درلوده :

۱. لوړ خج Udatta = Raised
۲. کښته خج An-udatta-Unraised
۳. لوړېدونکی او کښته کېدونکی خج = Theraising-Folling Svarita

له دغو اقسامو څخه لومړی ډول د هند او اروپايي ژبو د خج سره مشابهت لري، او د سنسکريت خجونه اکثراً په شعر کښي وه، علاوه پر دغه چي له ايکسنټ څخه په نظم کښي کار اخيسته کېدئ، او په ويدي قديمو متونو کښي هم موجود ؤ او وروسته هم هر ويد ځانته د ايکسنټ درلود، په عمومی ډول هم ټولو ويدي الفاظو پر يوه يا دوو سلابيلو باندي ايکسنټ درلود، لکه چي په هندو اروپايي ژبو کښي سته، او کله به هم په ترکيبي الفاظو کښي ايکسنټ مکرر کېدئ چي Doable-Accint ورته وايو.



د سنسکريت د مرکباتو ايکسنټ بېل احکام او اصول درلوده، او تقريباً په ټولو ګرامري احکامو کښي ايکسنټ بېل بېل اثر کاوه (۹) د اوستا په قديمو نسخو کښي (دويدا برخلاف) هيڅ ډول ايکسنټ نه ليدل کيږي او نه په ليک کښي راغلی دئ (۱۰) او له دغه جهته هم ايکسنټ په پارسي کښي خورا لږ مراعت کيږي، مګر په پښتو کښي د صوت او تلفظ يو مهم رکن دئ، او ډېر کلمات په همدغه ذريعه که څه هم په حروفو او کلماتو کښي سره يو وي خو په خج سره بېلېږي، مثلاً : ورِی "برده" وری "پشم" توری "حرف، تلخه" توری "ترائی" اته "مقياس طول" اته "هشت" له دي قسمه کلمات په پښتو کښي خورا ډېر دي، او لکه ايکسنټ چي په ويدي ژبه او سنسکريت کښي ډېر اهميت درلود، په پښتو کښي هم لري.

د پښتو ژبي خج لکه سنسکريت په ګرامري احکامو کښي هم ډېر مهم دئ، اکثر ګرامري اصول د خج په تميز ښوول کيږي او د کلماتو په تصويب کښي ډېر اثر لري. نو سړی داسي ويلای سي چي ايکسنټ د آريائی ژبو يو مهم خاصيت دئ، ښايي چي په آريائی اصلي ژبه کښي هم ؤ، مګر وروسته چي ويدي او سنسکريت ژبه په هند کښي د علم ذريعه وه او د آريائيانو اکثر علمي او ادبي آثار هم نظم وه نو په سنسکريت کښي خج ډېر انواع وموندل، او په نظم کښي ډېر داخل سو. (۱۱)

## لمن ليکونه

۱. د دوو صايتو توريو مرکب رغ ته په علمي اصطلاح ډفتونگ DIPHTHONG وايي لکه: اى ـ او ـ وى
۲. برطانيکا، ج ۱۹، ص ۶۵۵
۳. د اسوتا گرامر ص ۱
۴. فرهنگ نظام ج ۴
۵. په دې مقايسه کښې له فرهنگ نظام (ج۴) او د اوستا گرامر څخه چې جيکسون ليکلى دئ او برطانيکا (ج ۱۹) او ويدک گرامر څخه چې د ماکډونل اثر دئ استفاده سوې ده او پرتله هم تخميني ده که تېروتى يم معافي غواړم. (حبيبي)
۶. د ماکډونل ويديک گرامر، فرهنگ نظام

تبصره: په دې مقالو کښې چې هر ځاى د شرقي او غربي اصطلاح راسي، مقصد دا دئ چې بخدى < بلخ مرکز وگڼئ د بلخ شرقي خواوي د شرقي په نامه يادوو، او غربي خواوي ئې تر دجلې او فراته پورې غربي بولو. له غربي څخه مقصد اروپا نه ده.

۷. د براون تاريخ ادبيات ايران ـ ج ۱ ـ د مهر مجله
۸. سخندان فارس ص ۵۶ـ فرهنگ نظام ج ۴ ـ مقدمه
۹. برتانيکا ـ ج ۱۹ ص ۹۵۵ ـ ويدک گرامر ـ ص ۷۷ ـ ۱۰۷
۱۰. د اوستا گرامر ـ ص ۲.. ـ ۲۹۳
۱۱. کابل مجله، ۱۳۲۴ لمريز کال، ۵ مه، ۶ مه او ۷ مه گنه.